# پښتونخوا

## دپښتنو ټولنیز ولسولیز کوند خپرونه

۵ مه کڼه  اپریل ۱۹۸۹ کال

Jahrgang./Vol.:1989 /3  Nummer/No.: 5

# Pakhtoonkhwa

**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN - Paschtunchwa/ Afghanistan**

**ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP) -Pashtoonkhwa/ Afhanistan**

**www.pashtoonkhwa.com**

**pashtoonkhwa@gmail.com**

**psdp@gmx.net**

**V. I. S.P. / RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:**

DR. KABIR STORI

HÖNINGER WEG 63

5000 KÖLN 51   WEST GERMANY

**Editorial Board/Redaktion**

ALI KHAN MASEED

HIDAYAT BANGASH

MUBARIZ  SAPI

GULGHUTAI KUNARAI




# پښتونخوا

د پښتنو ټولنیز اولسولیز گوند خپرونه

ټوک ۳ گڼه ۵

اپریل ۱۹۸۹

JAHRG-/ VOL Nr/No

# PASCHTOONCHWA
# PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY

**PSDP**

## سرلیکونه

مخ

په نهوړه کلي نه کیږي 1
احمدشاه بابا او پښتونخوا ۳
ښځه او پخوانۍ ټولنه ۴
نوي زلمي ۱۰
خوښه ۱۲
فاتح میوند ښاغلی محمد ایوب خان غازي ۱۳
ژبه او فکر ۱۸
دستا وطن یم پښتونخوا یم ۲۱
پښتانه او د باچاخان ارمانونه ۲۲
د اوب صنداره ۲۶

خپرونکی: د پښتنو ټولنیز اولسولیز گوند
پښتونخوا / افغانستان

HERAUSGEBER: SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTOONEN
PASCHTOONCHWA / AFGHANISTAN

PUBLISHER: PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN

ذمه وار :
V. I. S. P.:
RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:

ډوکتور کبیر ستوری
DR. KABIR STORI
HÖNINGER WEG 63
5000 KÖLN 51
WEST GERMANY
TEL. (0221) 3602472

د خپروني جرگه
REDAKTION
EDITORS BOARD

ALI KHAN MAHSOOD علیخان محسود
HIDAYAT BANGASH هدایت بنگش
MUBARIZ SAPI مبارز ساپی
GUL GHUTAI KUNARAI گل غوټۍ کونړۍ

# په زړو ګلي نه کېږي

د شوروي اتحاد د پوځونو د وتلو وروسته د افغانستان سیاسي آزادي بېرته په ځای شوه. او د افغانستان کشاله یوه کورنۍ ربړه وګرځېده لدې کبله د بهرني لاسوهنې او پوځي مرستو د بندولو غوښتنه کوو او خپلو افغانانو ورونو ته وایو چې په اوسني سیاسي او تاریخي پړاو کښې هیڅوک رهبري او کشالې په زور سره حل کولی نه شي. سوله او روغه جوړه یوازنۍ لاره ده. د پښتو متل دی "په زړو ګلي نه کېږي". نوې زړه پیدا کوي.

راتلونکی نه مونږ څخه د اتقاضا کوي چه چرته او هر چانه بې نیازه خپلو کښې ګډ د خپلو ځنګیالیو پلرونو او نیکونو په شان د ملي ورونو په توګه په تامي تمغر راغونډ شو او جرګه شو او دا هر څه وړاندې کېږدو او پدې خبره ښه په تفصیل دقیق غور وکړو چه دا په مونږ څه وشول؟ څه کېږي؟ د چا له خوا کېږي؟ څه د پاره کېږي؟ ولې کېږي؟ او مونږ د دې علاج څه وکړو؟ او بیا په یوه خوله یوزړه او یو اواز راپاڅیږو او د عمل ملا وتړو. نن په افغاني صحنه کښې لوی واقعیتونه منځ ته راغلي دي سیاسي ډلې او ګوندونه جوړ شوي دي. لو دغه زمونږ افغانانو څخه هم لوی فکر غواړي. مونږ پدې عقیده یو چه افغانستان زمونږ د ټولو افغانانو ګډ کور او وطن دی. هر افغان د خپل دې وطن په سیاسي اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري او نورو چارو کښې مساوي حق لري او د د کوم ګوند یا تن انحصار نه دی. لو ځکه مونږه



هر ډول یو ګوندیز او مطلقه حاکمیت ردوو او په ډیر ګوندیزه پارلماني ډیموکراسي ټینګار کوو چه هر ګوند او هر چا ته د خپل سیاسي چارې موقع په لاس ورکړ شي. بیا د اولس خوښه ده چه څوک ټاکي. هر څوک چې د افغان اولس اعتماد وګټي هغه ئې نماینده دی. او که څوک سیاسي قدرت په زور لاس ته راولي لو هغه د افغان اولس نماینده ګڼل کېدلی نه شي.

اوس چې د افغانستان څخه د شوروي اتحاد پوځونه وتلي دي لو د جګړې د دوام د پاره هیڅ دلیل نشته دی. او د افغان اولس غوښتنه ډیره کې سوله او روغه جوړه غواړي. په اوسني حالاتو کښې د هر افغان ملي او تاریخي دنده داده چې د وروروژنې او د افغانانو د وینو تویدلو مخه ونیسي او د خپل وطن د آبادي او سوکالۍ د پاره هڅې ولګاږي.

- د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند د لر او بر پښتنو اولس د یو نماینده او د مخالف ډیموکراتیک غورځنګ د یوې برخې په توګه د ټولو سوله غوښتونکو ځواکونو ډلو او حکومتونو څخه د دې هیله لري چه د افغان د رهبري د سوله ایز حل په لاره کښې مرسته وکړي
- د نړۍ د واړو د سترو ځواکونو څخه غوښتنه کوي چه د جنګ ځلمي په ځای سولې ته مخه کړي او د افغانانو د وینو بهیدلو مخه ونیسي.
- د ملګرو ملتو د موسسې څخه غوښتنه کوي چه پوځونه افغانستان ته د جګړې د بندولو او د امن د ساتلو د پاره تر شره راولیږي او د ټولو ګوندونو په شمول د خپلې سرپرستۍ لاندې د ازادې ټاکنې انتظام وکړي.



# احمدشاه بابا او پښتونخوا

ستا د عشق له ویره ډک شوه ځیګرونه ـ ستا په لاره کښې بایلي زلمي سرونه
تا ته راشمه زړګې زما مانع شي ـ بې له تا می اندېښنې د زړه ماروونه



احمدشاه بابا

که هر څو د دنیا ملکونه ډیر شي
زما به هیر نه شي دا ستا ښکلي باغونه
د ډیلي تخت هیرومه چې را یاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
د رقیب د ژوند متاع به تا په تا کړم
چې په تورو پښتنانه کا ګوزارونه
د (فرید) او د (حمید) دور به بیا شي
چه زه وکاندم په هر لوري تاختونه
که تمامه دنیا یو خوا ته بل خوا یې
زما خوښ دی ستا خالي تش ډګرونه
(احمدشاه) به دغه ستا قدر هیر نکا ـ که ونیسي د تمام جهان ملکونه

**لا به یو کیږو ګني ورکیږو**
ولي خان



لیکنه: ګل غوټۍ کونړۍ

# ښځه او پخوانۍ ټولنه

د نړیوال پیښس لیک په اوږدو کښې د ښځو سپیڅلو حقوقو ته په درنه سترګه نه دی کتل شوی. په پخوانیو پیړیو کښې د یو څاروي په څیر د ښځو حقوق د پښو لاندې کیده. پخواني لرغوني رومیان، یونانیان، کلدهیان او اشوریان د ښځو حقوقو ته د درناوي منونکي نه وو. د ښځو څخه داسې ګټې اخستل کیدې لکه د څارویو په څیر او تل ئې بشري حقه حقوقو باندې لوټ کیدی. پداسې د ناپوهی په تورو تیارو دلرونکو پیړیو کښې نارینه و به د یوه سلطان په څیر د ښکار دنده ترسره کوله او ښځو به د غلامانو غوندې د ژوندانه سختې کړکیچنې دندې ترسره کولې. او تل به د ستم یاوړ سره مخ وی. چه هر کله به ناروغي کیدی د درملو غوښتنه به نه وو. او د ژوند د سختو شپو په تیریدو څخه به د مرګ کندې ته ګذار شوی. د نړۍ سترو فلاسفو لکه افلاطون، سقراط او ارسطو د خپلو لرلو پیړیو په اوږدو کې تل د غه سترو فیلسوفانو د ښځو د حقه حقوقو ملاتړ ئې کړیدی نه ئې غوښتل چه ښځې د غلامانو په څیر او نارینه د دیکتاتورو او پادشاهانو په څیر ژوند تیر یوسي. تل ئې غوښتل چه د ښځو بشري سپیڅلو حقوقو ته درناوی وشي او ښځو حقه حقوق دې د نورو سره برابروالی ومومي. داسې نورو سترو فیلسوفانو هم د ښځو د حقوقو برابرېدل د نارینه و سره سم ملاتړ ئې

کمېدې.

نجوالو عربانو به ښځې ژوندۍ ښخولې په دوی کښې داسې یوه تیوري مینځته
راغلې وه او داسې یوه ناوړه تیوري وه. چې د زوی زیږیدنه به ئې په
سترګو ګلپیږو سره لمانځله او د لور زیږیدل به ورته لوی شرم
ګڼل کیده. پلار ورنو به تل خپلې لونه ژوندۍ ښخولې. او په داسې توګه
به د ښځو په ژوند لوبې کیدې. د دغه تیوري تر ډیرو کلونو پورې دسلو
وې ګرځیدلې وه. د داسې خرافاتو د ناپوهۍ په تیاره او موهوم پرستۍ لتولو
پیغمبر په راوړلو دې د اسلام مقدس دین مینځ ته راغی. د عربو په خاوره کښې
دغه تیوري له منځه ځي ځکه هر کله چې یوه لوی سفلوره مینځ ته راځي نسبت
نجوانې منفلورې ته پر مختللې وي. او د منلو وړ ګرځي. او د نجوانې تیوري
ورو ورسته پاتې اجونه ختیمرل کیږي. او بیا له بدو تمیز کیدی شي. پۀ
"۱۹" پیړۍ کښې چې دغه پیړۍ د نړۍ پر مختللې او د صنعتي سترو اختراعاتو
او کشفیاتو د بشري نمر لیوال ټولنو لپاره لوی روښانه او ځلنده
صدۍ وه. د ښځو د حقه حقوقو ته پکښې پام راوګرځید. او د ښځو حقوق
په تیره بیا په اروپا کښې په پوره رسمیت سره وپیژندل شو. او د لومړي
ځل لپاره دغه لوی ګام په اجتماعي او ټولنیز ژوند کښې په نمر لیواله ټولنه
کښې واخستل شو. زمونږ د هیواد د پیښس لیک په هر پړاو او دوره
کښې د ښځو حقوقو ته د نرو سره په برابره توګه ندي کتل شوي خو سره



لدې بیا هم زمونږ پښتنې پیغلې میرمنې تل ئې د خپل هیواد په ملي پاڅونو او
ملي غیرتاکي غورځنګ په برخه کښې د خپلو ورونو سره اوږه په اوږه ښګر
ته تللې دي. چې ښه غوښتونکې ملالۍ د میوند په جګړه کښې د هیواد لپاره
علیم ته ئې د خپلو ورونو په ملاتړ سخته ماتې ورکړه. چې د پښتنې پیښس لیک
پاڼې پرې ځلیږي دی توری پیکۍ. بله پښتنه میرمن وه چې د سپین بولدک
په جګړه کښې ستره توره ئې په افغاني تاریخ کښې څرګنده ده. او د ادب
په برخه کښې هم زمونږ پښتنې میرمنې ښکلې آثار لري. او د پښتو ادبي
په ادبي برخه کښې پښتنې پیغلې میرمنې له خپلو ورونو څخه پاتې ندې راغلې. زمونږ
سترې شاعرې میرمنې نازو انا، زرغونه کاکړه، زینب هوتکۍ پښتنه
بی بی نیک بخته او داسې نورې ډیرې میرمنې شته چې په علمي ادبي برخه کښې هم
مشهورې او ځلیږي دي. عایشه درانۍ، زرغونه انا، سوریا، سلطانه رضیه
چشتانه او نورې ډیرې پښتنې میرمنې دي چې د خپل هیواد او ټولنې او ولس
په وړاندې ئې سترې دندې ترسره کړيدي او زمونږ افغاني پیښس لیک
پرې ویاړي. د امیر شیرعلي خان څخه د مخه او وروسته د پیښس لیک
پړاو پر اوږدو کښې د ښځو حقوق زمونږ په ټولنه کښې د نرو سره برابر
نه وو. ښځو ته د لیک لوست او پوهنې په برخه کښې هیڅ پاملرنه نه وه
شوې. علامه سید جمال الدین افغان لومړي ځل لپاره د ښځو د حقه حقوقو
ناره جګ کړه. د امیر شیرعلیخان د باد شاهۍ په دوره کښې د مشرقي نالغه



د خپلې ټولنې او هیواد د سمسورۍ او ودانۍ لپاره په هره برخه کښې او د خپل
او ولس د سوکالۍ او هوسائۍ لپاره یو څو پر مختللي پلانونه او مترقي غوښتنې امیر
شیرعلي خان ته وړاندې کړې. چې له حقوقو سره و پر مختللو غوښتنو څخه ئې یوه هم
د ښځو د حقه حقوقو برابروالي له نرو سره غوښتنه وه. د صفي ستر هیوادپال
اتل زیاتره پر مختللي پلانونه او غوښتنې د هیواد د سمسورۍ او غوړیدو لپاره
نیمګړې ترسره شوې او د ښځو د حقه حقوقو غوښتنه ئې هم عملي جامه وانه غوستله صفه په
پالې کښې خواشیني له خپل ګران هیواد څخه لرې وړاندې یو ملکونو ته لاړ. د امیر امان
الله خان د پیښس لیک په ځلنده دوره کښې ښځو د حقه حقوقو د لومړي ځل لپاره
ملاتړ وشو او د پوهنې په برخه کښې د لومړي ځل لپاره د ښځو ګډون په ښوونځو کښې
مینځ ته راغی. او زمونږ د هیواد یوه ډله پښتنې پیغلې او میرمنې د زده کړې لپاره اروپا
هیوادونه او په تیره بیا ترکیې ته واستول شوې. چې هلته خپلې لوړې زده کړې
ترسره کړې. او د لومړي ځل لپاره پدغه پر مختللې دوره کښې د ښځو حقوق رسماً ومنل
شول او په پوره رسمیاتو وپیژندل شو. د پیښس لیک پدغه ځلنده اساسي
دوره کې د لومړي ځل د پاره د ښځو حقوق د نرو سره د پوهنې په برخه کښې برابروالی
ومونده او ښځو ته وخت ورکړ شو د خپلو ورونو سره سمه زده کړه لاسته
راوړي او د هیواد په سمسورۍ او د ولس په هوسائۍ یعني له خپلو ورونو سره
اوږه په اوږه ونډه واخلي. او د هیواد پیغلې میرمنې کولاشي چې د هیواد په دننه
او بهرنیو هیوادو کښې زده کړه لاسته راوړي شي. او دې خبرې ته توجه ونیول شوه



چې پښتنې میرمنې دې خپلواکه شي او د ښادۍ دود زمونږ له ټاټوبي یو هیواد و
څخه زمونږ هیواد ته راغلی دی د دغه زمونږ کلتوري دودونو تل زمونږ پښتنو
میرمنو ته ورکې په سر کړې. کله چې د اماني ځلنده دوره له مینځه لاړه زمونږ د هیواد
میرمنو پیغلو ته چې دې هیواد په کلیوالو باندو وکښې ژوند کوي. هاغسې د وسطائي
(اوسطا) پیړۍ په نابرابرۍ کښې او س هم ژوند کوي. او د خپل ژوندانه د ډیرو
حقه حقوقو بې برخې دي. سل په سلو کښې ښځې د زده کړې څخه بې برخې دي. د ناپوهۍ په تیرو
کښې ژوند کوي. او د ښځو پیغلو حقوقو ته ئې ناربینه منونکي ندي. تل د هیواد د دغه ورسته
پاتې پیغلې میرمنې د څارویو په څیر پلورول کیږي او پلرونه ئې بې ځایه ورورونه
د ښځو او لونو په ورکړه کې اخلي د ګډ ژوند په برخه کې د دوی رضایت ته پاملرنه نه کوي
زیاتره د هیواد پیغلې میرمنې ځان وژلو ته اړ کیږي د دغه نابرابرۍ له کبله که سرشمیرنه
وکړو وبه وینو چې زمونږ د هیواد د کلو باندو او په ولایتو کښې زیاتره میرمنې
پیغلې یا ځانونه خپله وژنې او یا د ناروغۍ د ظلم زور زیاتې او د هغو ټولو له کبله شهیدانې
او قربانۍ کیږي. د وسطائي پیړۍ وروسته پاتې چلند زمونږ د هیواد د کلو باندو
غرنیو سیمو په میرمنو او ښځو باندې او س هم عملي کیږي. په پای کښې والو زمونږ د
هیواد د روښانې فکره طبقې ځوانان او پیغلې باید د خپلو د غړو خویندو له پیغلو حقوقو
څخه ملاتړ وکړي. زمونږ د هیواد ټولې پښتنې پیغلې میرمنې د نړۍ د ټولو
ښځو د حقه حقوقو څخه ملاتړ کوو او بیا په تیره د وروسته پاتې دریمې نړۍ د

دَلاتیني امریکې او جنوبي افریقا دښځو سیاسي حقوقو مسلاتړ کوو
ترونډي دي وي دښځو خوځښت په ټوله نړۍ کښې .



نسیم بي بي

نسیم بي بي وائي:

ورښتني پښتني دیوے کوښي . صدقه شه سل بے ننګه نارینه

| |
|---|
| که څوک ښه شي هم خان د پاره دي<br>او که څوک بد شي هم خان د پاره دي<br>( باچاخان ) |



## لوی ننداره

پښناور . د فخر افغان، لویه ارواح خدائي خدمتګار باچاخان لمړی تلین د جنوري دمیاشتې په یوویشتمه نیټه کال ۱۹۸۹ د پیښور ښار په نشتر هال کې ونمانځل شو . په دغه غونډه کې چې د صوبائي سرحد وزیر ښاغلي باز محمد خان تر مشرۍ لاندې د پښتونخوا ملګري "ډاکټرانو" له خوا جوړه شوې وه . د پښتون وياړ ستر مشر "خان بابا" عبدالولي خان، نسیم بي بي . "خان لالا" محمد افضل خان او د پېښور د ښار او سیمو نګين شمیر پوهان، ادیبان او ګڼ شمیر ښځو او نرو پښتنو ګډون کړی و . ځمونږ د ګوند خبریال چې هم په دغه غونډه کې ګډون کړی . ویلي چې غونډه دومره په زړه پورې او د ماښګر په خلوه نیمو بجو په داسې حال کې پائ ته ورسیده چې د غونډې ټولو ګډون کوونکو نه په یوه اواز د پښتنو ستر مشر "خان بابا" عبدالولي خان تر قیادت لاندې د پښتني نړۍ د یووالي او هوسیاینې بیا بیا غوښتنه لوی کیدله .

خبر دا هم زیاتوي چې په دغه غونډه کې چې .. ویاند "ښاغلی ډاکټر سید عالم وو . ډیرو ملګرو ډاکټر الزهم په خوراړ کو غوره نګونو مضامین ولوستل . او په پای کې د پښتنو ستر مشر "خان بابا" عبدالولي خان هم د ورځني سیاسي حالاتو په هکله ښه درنه اوله ولولو ډکه وینا وکړه چې په هره برخه کې د ګډون کوونکو په اوږ د او احساساتو بدرګه کیدله .

**ځوځم** . ( لویذ الامان ) د پښتنو ټولنیز او لسولیز ګوند جنرال سیکرتر هدایت بنګش وئیلي دي چه د پښتنو د تباهۍ لپاره غټه طوطیه ( سازش ) روان ده . په کراچي کښې په پښتنو باندې زور زیاتي په جلال آباد او د بري خوا د پښتنو په لوړ و سیمو کښې د ځګړې توده ول ده دی ښکاره ګڼه ده . په دغه ګلبره کښې دوامره خواوته د پښتنو وینه توییږي . د پښتنو د وینو بیدلو دپاره بنګش لرو بر پښتنو ته غږ ( اپیل ) وکړل چه بختلو منځونو کښې وشرنه او د وینو تویو نه لاس کړي او د خپلو بیړونو



او نیکونو په شان دغه ستره د جرګې او خبرو اترو د لارې حل کړي .

**۳ سوات** . د عوامي نیشنل پارټي پښتونخوا مشر "خان لالا" محمد افضل خان وئیلي دي چه د افغانستان د مسلې د شرحل کولو دپاره مونږ اسانه لاره په ګوته کوو . او دا ده چې په دې لمړکې دې په پاکستان کښې د پیرتو لپښتنو د مشرانو د جرګې نه کار واخستلی شي . د دې جرګې غړي به هم پښتانه وي او د ځګړې فریقین هم پښتانه دي . د دوی دودونه دستور او تره یو ده . د پښتنو دشو رواجیتي کم کیږي معاملې صرف د جرګې په لاره په سوله ایزه توګه سرته رسیدلی دي . دا جرګه به اول دیو فریق سره جرګه و مرکه وکړي او چې یوې روغې ته ورسیږي نو بیا به د بل فریق سره جرګه او مرکه شي خو دا چې کله لوی طاقتونه ونه غواړي نو آسانه نه ده ځکه چې ښکاره خبره ده



خان لالا

چې زمونږ په وینه هغوی خپل عالمي سیاست چلوي دا به هلته سرته رسیږي چه لوی قوتونه په پاکستان او افغانستان اثر واچوي چې دی جرګې ته لاره هواره کړي .

| |
|---|
| د ځ رون توریالي خوښي کړې لنډۍ که<br><br>پښتو غیرت له پښتون غواړي<br>سر د پښتنو دی بې همته مه شي مینه<br><br>پښتون په پت باندې پښتون دی<br>د پت نښان به تل او چت په جهان وینه |



## خوښه

که د چا او د چا خوښه ده
ځما د قام خپل ارتقا خوښه ده
که څوک پردو په غلامۍ ناز نه پیرزي
ځما آزاد د ترونډون فضا خوښه ده
که څوک د سرو شونډو خولو نه وینې
ځما په وینه مشغولا خوښه ده
که څوک د زلفو خیالي تال جوړوي
ځما ښتیا په تال ځنګا خوښه ده
که څوک دنیا جوړو په تمه ناست وي
ځما دا لاسې په لاس سودا خوښه ده
که څوک عقبا کښې عشرتونه غواړي
ځما خوشحاله دا دنیا خوښه ده
که څوک یورپ کښې په بنګلو کښې خوښ دی
د ستوري خپله پښتونخوا خوښه ده

( ستوري )

وخت غازي ایوب خان اټلي ته پر جهاز کښې چه نوم ئې (Capri) وو بمبئي نه سنګاپور ته لاړو
او بیا د هغه ځای نه جاپان ته. د جاپاني خلقو او حکومت د فاتح میوند پوښاغلي استقبال وکړو
چه د غازي د سترګو نه اوښکې داسې بهیدلې لکه باران. د جاپان مطبوعاتو غازي ته د
ایشیا لوی زوئ او ویلو. او مطبوعاتو د هزلنسي ایوب خان ډېر ښکلي تصویرونه
د هغه ځلې چه د خپل ملک د ازادئ د پاره ئې کړي وو. نشر کړه. او جاپاني مطبوعاتو
غازي ته د لمر ختو ملک ته په راتګ په خیر راغلئ او ویلو. پر جشن او خوشحالي وه.
بیا سردار اغوښتل. چه د ۱۹۰۵ء روسي جاپاني جنګ قهرمانانو (Heros) سره اوګوري
د جاپاني مشهور جنرال توګو (Togo) سره اوکتل. او د جنګ متعلق پوښتنې ئې
اوکړې. جاپاني مطبوعاتو اولیکل چه د فاتح میوند او فاتح Port Arthur لوبل سره ملاقات
کوي. بیا غازي او د دوئ ملګرو د خواهش ظاهر کړو. چه دوئ غواړي چه هغه مشهور
د اېوخنلي جهاز چه نوم ئې میکاسه Mikasa وو ګوري. چه دغه جنرال توګو Togo جهاز
وو. بیا دوئ د جاپان پوځي شخصیت سره اولیدل چه د جنګ کښې ډېر رول لوبولی وو. یعني جنرال
Satsuma. د جاپان خلقو او حکومت هر ځای د سردار او د دوئ ملګرو لږ د هر ځای کولو
دوئ د جاپان کارخانې، بندرګاه او پوځي وسلې او تیلې او ډېره اغیزه پرې کړې وه. چه
په مشرق کښې څومره دومره ترقي کړې ده. د ۱۹۰۷ آخري کښې امیر حبیب الله خان
کابل ته واپس لاړو. هم سردار غازي ایوب خان د جاپان د دورې نه پس ته لاهور ته راغي
په آخري وخت کښې غازي ډېر عمرزن وو. هغه ته اقتصادي مسائل او اولاد د ډیرو پرېشانو
د اولاد تر مینځ جنګونه او لوئ بدبختۍ وې. غازي ایوب خان ۱۷ اپریل ۱۹۱۴ کښې
د زړه د دورې په وجه مړ شو. او خوړل وائي چه د دوئ وینځې چه ملالئ نوم وو. زهر
ورکړي وو. د مرګ وجه چه څه وه. مګر دغه سرلښکر خپل ارمان ګور ته ورسره
یوړه. چه خپل خوږ وطن ته لاړ نه مړ شو. د دوئ د وصیت د مطابق دوئ په پېښاور
کښې خاورو ته وسپارل شو. چه د دوئ خپل چه کابل نه وي پېښنو رحم د پښتونو کور دے
د غازي په قبر لو سپینه ګمبته جوړه کړې وه. مګر د ظالم زمانې د لاسه ورو
ورو ړنګیده او ورک شوه. د دې په قبر لیکل شوی شعر متن دا دے

چه څه غریب په قبر نه ډیوه شته او نه ګل
نه د پتنګ پر او نه چغار د بلبل.





## شعور او فکر

زمونږ فکر د شعور سره نه شلیدونکي اړیکي لري. د دې د پاره
چې د شعور او فکر په اړیکو ښه پوه شو. په یوه مثال سره د فکر
مهم اړخونه را په ګوته کوو.



د ډوکتور کبیر ستوری
د پلوم سپاوه

مثال: کله چې سړی په شپې کښې په حجره
کښې د شپې بنځ او ده وي او سبا د
خوب نه را پاڅي او د حجري څخه بهر را
ووځي ووینې چې ځمکه لمده ده نو
فکر کوي چه د شپې باران شوی دی.
که دی مثال ته ځیر شو نو وبه وینو چې
سړي خپله باران لیدلی او حس کړی
نه دی خو ځمکې د لمدوالي په واسطه
چې پوهیږي یا خبریږي. په
لنډو توګو سره فکر د ناسیده (غیري مستقیم) پوهیدنې یا خبریدنې
لړی ده چې دا د فکر یو اړخ دی.
دغه ناسیده پوهیدنه یا خبریدنه د شیانو په منځ کښې د اړیکو



او ښتو لو په بنسټ ولاړه ده. تل چې باران شوی دی نو ځمکه ئې لمده کړې ده
او د دغه ښتون څخه سړی خبر دی لو ځکه وائي چه د شپې باران شوی دی
دلته د فکر بل اړخ را ښکاره کیږي چې هغه عمومي والی دی یعنی د ځمکې
د لمدوالي او باران په منځ کښې ښتون عمومي خوئې لري او د کوم یو
خاص باران پورې د ځمکې لمدوالي تړلی نه دی. هر باران ځمکه
لمدوي. په لنډو توګو سره دا د دې معنی لري چې د فکر په لړۍ
کښې مونږ د شیانو د یوې ډلې د عمومي خاصیتونو سره کار لرو.
فکر د یوې ډلې شیانو د عمومي خاصیتونو انعکاس او د
شیانو په منځ کښې د عمومي ښتونو او اړیکو موندنه ده.
د فکر په **ناسیده توب** او **عمومي توب** کښې د شعور سره د
فکر اړیکې پراته او نغښتي دي.
"شعور که د یوې خوا د فکر څرګندولو وو پوهیدلو او پوهولو وسیله ده" (۱)
د بلې خوا د شعور په واسطه مونږ فکر کوو او شعور د فکر یو بنسټ دی.
تیپلوف (Teplow) د دغې یا بې غږه شعور او د غوږ لرونکي
شعور په منځ کښې توپیر کوي. او لیکي چې "بهرنی یا غږ لرونکي شعور د لوړو
د پوهولو او د ننۍ شعور د ځان د پاره ده. د کومې په مرسته چې مونږ
فکر کوو او لري کېږه د فکر لوړ بنسټ دی. پخپله د فکر او د هغه د شعور
خبري په منځ کښې توپیر دا دی چې سړی هغه لو فکر په مختلفو شعورو
څرګندولی شي. چې لمر کښې فکر ثابت پاتې کیږي. که څه هم



په لغتونو بدلیږي. هغه یو فکر کولی شي چه د شعور مختلفي بڼې
وړي. خو بیا د شعور د یوې بڼې څخه انساني فکر موجودیت نلري" (۲)
مطلب دا دی چې د فکر په لړۍ کښې مونږ تل د عمومي مفهومونو او ویو
(اصطلاحاتو یا لفظونو) سره سروکار لرو کومې چه د یوې ډلې شیانو
د ګډو او مهمو خواوو ښکاره ونکي دي. د مثال په توګه د "ګلک"
ویي د ډېرو شیانو خوی چوپه وي چې مونږ دغه ټول شیان چه ګلک
دی لیدلي نه شو خو فکر ئې کولی شو لري کېدله عمومي نوم یا ویي (لفظ یا اصطلا)
د فکر یو څېره ده "هو فکر چې د انسان په سر کښې تل پیدا کیږي. دغه
یوازې د شعوري موادو او د شعور د ویو او جملو په بنسټ منځ ته راتلای
او پیدا کیدای شي. داسې فکر چې د شعوري موادو څخه، د شعوري طبعي
موادو څخه ازاد وي موجودیت نه لري" (۳)
لنډه دا چې مونږ د شعور په مرسته فکر کوو. د شعور څخه فکر هم
منځ ته راتلای او پیدا کیدای نه شي شعور او فکر نه شلیدونکي
اړیکي لري.
شعور یوازې د فکر د څرګندولو او پوهیدلو اله نده بلکه د فکر لوړ بنسټ هم ده

(۱) د ډوکتور هلالی وو د شعورپوهنی مسایل" په کابل مجله کښې، ګڼه ۱۱ کال ۱۳۶۰ م ۷۲

(۲) Teplow: "Lehrbuch der Psychologie", Frankfurt 1972, S. 128

(۳) Stalin, J. W.: "Der Marxismus und die Frage der Sprachwissenschaft". Dietz Verlag, Berlin 1951, S. 46

مبارز صافي

## دا ستا وطن یم پښتونخوا یم

راځي په هر چا باندې سختي
ماتوي ځان باندې هم لختي
خلقه! له مانه لرې تختي
مه کوه دا رنګه اوښتي!
چې نه هم ستا ښکلې لیلا یم
دستا وطن یم، پښتونخوا یم
خلقه! له مانه بې پروائې
وایه! په فکر کښې د چائې
چې لې کمانه. ته نن له مائې
د بلچا سره ته په نخشائې
راشه چې تا ته په شهاه یم
دستا وطن یم پښتونخوا یم
لېږه مېړانه غوره ښکاري
تاریخ هم ستا کړنه تل ځاري
خلقه! ته نن درومې بې لارې
راشه د پلار په لیارې باري
چې نه په مینه د بابا یم
دستا وطن یم پښتونخوا یم



## پښتانه او د باچاخان ارمانونه

وینا کوونکی: ډاکټر سالار خان ایم بي بي ایس

موقعه: د باچاخان تلین (برسی) واقع نشترهال تاریخ ۲۱ جنوري ۱۹۸۹

د جمهوریت علمبردار. د پښتنو تاند ګران او ستر مېلمه خان عبدالولي خان صیب، د سا غونډې صدر، وزیر صحت باز محمد خان صیب، عزتمندو مشرانو او خوږو ملګرو. زما د وینا سرخط دے "پښتانه او د باچاخان ارمانونه".



فخر افغان

اګرچه د باچاخان فکر ونه او مقام او عظمت دومره لوړ دے. چه زه ځان ورے جوګه نه ګڼم چه د هغه سره پوره پوره انصاف اوکړے شم. خو د سیاست د یو معمولي طالب العلم په حیثیت چه ځمانه څومره کیدے شي کوشش به کوم چه تاسو ته په خپلو ماتو ګوډو لفظونو کښې د هغه د ارمانونو په باره کښې خپله وینا وړاندې کړم. هسے خو خدائے بخلے باچاخان د نړۍ د ټولو مظلومو او خپلو شوو قامونو خیرخواه او خواخوږے وو. خو په تیره تیره د خپل مظلوم غلام تس نس پښتون قام د وحدت آزادۍ او سوکالۍ د پاره چېل ټول ژوند په زندانونو، تکلیفونو او مبارزو کښې تیر



کړے دے. او تر مرګه پورې ئے د مبارزے جاري او ساتلے تر دے پورې چه د ښخولو وصیت "چه ما مړ نه کښې ماده ازادو پښتونو ملک جلال آباد کښې ښخ کړئ" د پښتون قام د وحدت او یووالي یوه فلسفه او د هغه د ټول سیاست او مبارزو یوه ایمه کړئ وه.

د باچاخان دا سوچ فکر او ارمان وو. چه پښتون قام دې د نړۍ د نورو خوشبخته قامونو غوندې ازاد، خوشحاله، خپلواکه او ترقیافته قام وپیژندلې شي. خو د بدمرغه پښتون قام چه د انګریزانو د ناوړه منصوبو او سازشونو له کبله په مختلفو برخو کښې د ډیورنډ کرښې په نوم په لر او بر کښې تقسیم کړے دے. او بیائے لر پښتون په ریاست علاقه آزاد قبایلي ایجنسۍ او ریاستونو کښې تقسیم کړے شوے دے. څه علاقه یعنې څه پښتانه ئے د بلوچستان صوبے سره او څه ئے د پنجاب صوبے سره تړلي دي. او د پښتون قام اتحاد او وحدت ئے تس نس کړے دے. قومي او اجتماعي سوچ ئے تري ورک کړے دے. او ورسره ئے د پښتون قام کلتور ثقافت، او رسم رواجونه هم ختم کړي دي. تر دے چه د پښتنو د ځنې قبیلو نه خپله ژبه پښتو هم هیره ده او پردۍ ژبه وائي. اګرچه د مغلو د دورنه راخله تر انګریزانو د دورې پورې په پښتون قام کښې وخت په وخت په قام مین او زړه ور مشران لکه پیر روښان، خوشحال خان خټک، احمد شاه ابدالي، شیرشاه سوري، میرویس خان، ایمل خان، او غازي امان الله خان او داسې نور ډیر پیدا شوي دي. او هغوئ د پښتون قام د اتحاد، خوشحالۍ او سوکالۍ د پاره جدوجهد او مبارزې کړي دي. او ډیرې قربانۍ ئے کړي دي. خو باچاخان چه د پښتون قام د اتحاد او یووالي، آزادۍ، خوشحالۍ او روښانه مستقبل د پاره په ډیر منظم توګه کومې مبارزې کړي دي. دا د دستانئینې وړه دي. د داسې تحریکونو مثالونه په نړۍ کښې ډیر کم موندې شي. د باچاخان دا ارمان وو. چه پښتون قام د هم لوی مهذب قام جوړ شي. او په نړۍ کښې د ټولو د آزادو قامونو په شان ازاد او خپلواک قام اوګڼلے شي.

لږ دے تس نس پښتون قام د یو ځائے کولو د پاره باچاخان د لر او بر لوی افغان نعره ورکړه. یعنې د دریائے آمو نه تر مارګلے جهلم او د چترال نه تر بولان پورې



د پښتون قام یو ورور ولي جوړول د پښتنو وحدت او آزادۍ تر لاسه کول. د باچاخان مرام وو. او د دے مرام تر لاسه کولو د پاره باچاخان خپله مبارزه او جدوجهد له دوام ورکړو. د دے مبارزو او تحریک شروع باچاخان د اصلاح انا غنه یعنې د پښتنو اصلاح نه اوکړه. او د هغے نه پس ئے د خدائي خدمتګار تحریک په نوم خپل جدوجهد داسې مقام ته ورساوه. چه په تس نس ترنګو او قبیلو کښې تقسیم شوي پښتنو کښې ئے هم آهنګي، شعور، اتفاق، عدم تشدد او د ورور ولۍ جذبه پیدا کړه. د باچاخان او د هغه د ملګرو د ډیرو قربانو په برکت پښتون قام او خدائي خدمتګار تحریک په نړۍ کښې ډیر زیات شهرت حاصل کړو. او ډیر په ښه نوم او پیژندلې شو. باچاخان قامي ملا ر سے جوړ کړے. او پښتون قام ئے د علم د رڼا سره اشنا کړو او په پښتنو کښې ئې ترګنې، حسد، کینه او بدنیتي تر ډیره حده پورې ختم کړے. فضول رواجونه او رسمونه ئے ختم کړل د کسب په وجه یا د غربت په وجه چاته به کسبګر یا د ځان نه کم شمیرل ختم کړے شول. د دے د پاره خدائي خدمتګارو د خلقو جرګے په خپل لاس جاړو کول په دے غرض شروع کړل چه یو خوا هغوئ عام خلق یعنې غریب اولس ته دا یقین ورکول وو چه مونږ ستاسو نه یو او دا تحریک ستاسو د خوشحالۍ او آبادۍ تحریک دے. او بل خوا هغوئ نور پښتانه په خپل تحریک کښې شاملولو د پاره د جرګے ننواتے او منت په توګه دا فلسفه استعمال کړه. غولے جاړو کول مطلب دالان یا حجره صفا کول د پښتنو متل دے. مطلب ئے هغه فرد خپل لمونځ ته په درناوي راتلل دي. یا په درانه طریقه خپلے فیصلے ته راټول دي. د دے عمل په پښتون قوم ډیر ښه اثر اوکړو. او ټول پښتانه د خدائي خدمتګار تحریک سره ښه په مضبوط توګه وابسته شول. باچاخان د پښتون قام د پاره اقتصادي او معاشي نظام هم وضع کړو. او په دې شکل کښې ئے پیش کړو. "چه که پوره وي او سپوره وي په شریکه به وي" یعنې هر څه چه وي د ټول قام به شریک وي. د باچاخان دا معاشي او اقتصادي نظام څه نوې خبره نه وه. بلکه دا د پښتنو د شریک دسترخوان هغه تسلسل وو. خو باچاخان په سائنسي لفظونو کښې راغونډ کړو. باچاخان پښتون قام ته د ساده

ژوند تېره ولو ستي . ورکاوه . او ځيله ئې هم ساده ژوند تېره ولو . د دې
مبارزې په دوران کښې باچاخان د شپږ نيم نه زيات ژوند په زندان کښې تېر کړې
دې او يا په جلاوطنۍ کښې . او بې شميره تکليفونه ئې تېر کړي دي . او د خپل
هدف حاصلولو د پاره ئې تر مرګه پورې خپل جدوجهد او مبارزې جاري ساتلې دي.
تر دې حده پورې چه د ژوند په اخيرو ورځو کښې چه صحت ئې ډېر کمزورې شوې
وو . پښتنو ئې ساه پر لښتې وو . خو بيا هم د پښتنو په درد درمند بابا د کراچۍ د
کوېټې او مياټوالۍ دورې اوکړې . د کالاباغ ډيم خلاف ئې جهاد شروع کړو . او
او د ناجوړتيا په حالت کښې ئې هم خپل مشن جاري او ساتلو . د باچاخان د
ارمان وو . د دې خواهش او نصب العين وو چه پښتون قوم د متحد آزاد ،
او خپل واکه تام اوګرزوې شي . اګرچه دا ارمان لا ته اوسې پوره پورې ارمان
دې . او انشاءالله ډير زر به خپل مرام ته اورسېږي . خو ډېر مشکلات او
تکليف چه د پښتنو د آزادۍ او خپلواکۍ په لار کښې ځنډې دي . هغه دا چه پښتانه
ګله د منافع پرست ملايانو د خود ساخته اسلام په لوم غولېدلې دې او د خپل
پښتون ورور په مرګ ئې چا ماته اشتکلې ده . او ګله د پيسې او چوکۍ
د لالچ طمعداره وتام فرقو پروپيګنډو د پښتون تام د شعور سترګې بندې
کړې او غوږونه ئې کاڼه کړي دي . ترڅو به نه خو او ګورې نن پس
افغانستان کښې څه کيږي . د پښتون تام قتل عام روان دې پښتنې پېغلې کونډې
شوې . پښتانه بې پيسو شول دربدره شول . په امريکه ، ولايت ، المان
او چين کښې بمونه ، ميزايلې او ټوپک ګوبي په دې غرض جوړيږي چه د پښتون
بچي نه بابا واخلي . د پښتنې پېغلې نه خپل لاله جدا کړي او د پښتنې ناوې
نه د سر سورې واخلي . راځئ چه په دې فکر اوکړو . چه عليم وې به مخلوق
رنګولو او د سيسو ګله په منظم ډول او ګله د خپل تالي څټو په ذريعه د پښتون تام
د لو دې آزادۍ او خپل واکۍ په لار کښې حائل کيږي . داځکه چه دښمن په دې
منه پوهه دې چه که يو ځل د پښتون اولس دا مونه ترمخه اوکوټه
پورې يو څه شوه . نو بيا د دوی لارنيول د چا د وس کار نه دې .



خو د دښمنانو د کاميابۍ او ځمونږ د ناکامۍ يوه وجه دا هم ده . چه د پښتون قوم
ډاکټران ، پروفيسران . استاذان . انجنيران ، بيروکريټس او بانوکان او داسې
نور خپله تامې ته مه داری نه پوره کوي . د تامې تحريکونو سره چه ځمونږ له طرف نه کوم
کمک په کار دې هغه نشته . د تحريک مونږ صرف سياستدانان او اولس ته پرېښې
دې . که چرې مونږ ټول پوهان په دې کښې خپل کردار په منظم ډول ادا کړو
نو ډير زر به خپل هدف حاصل کړو . نن مونږ ټول پوهان او خصوصاً
ملګري ډاکټران د باچاخان د تعليمې په دې موقعه د بابا د روح سره دا عهد
کوو . چه د بابا بلې کړې مشعل بل ساتلو او د هغه ارمان مرام ته د رسولو د پاره
به جدوجهد جاري ساتو او نن په ورانډې به ځو . په آخير کښې ځه خپله
وينا په دې شعر ختموم .

چه قدم د باچاخان په قدم نه ږدي
هغه تن به څه پښتون او څه افغان وي .

---

ليکوال: هدايت الله بنګش

## دادب هنداره

**کيږدۍ :** د ډېرې پښتونخوا د نامتو ليکوال سليمان لائق د شعرونو ديوه
کتاب نوم دی چې په کابل کښې د پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۶۵ لمريز هجري کال
کښې د دوهم ځل د پاره چاپ شوی دی . د دغه
کتاب ديوه شعر چه اجمل خټک ته ويل شويدي
يو څو بيتونه مونږ د لته راوړو .

ستا په سندرو اوس کامونه خوځي
ګوره چې غلی نه شي ، ځيرنه شي
نه د اسمان لوبه بدله وينم
ګوره له خپله هوډه تير نه شي



سليمان لائق



ګوره تياره دی وار خطا نکړي — اجمل شپې پسې ځلمر راځي
څه چې د خپلو پېغلو ورځې ګورم — ماته په سترګو کې ځنجر راځي

سليمان لائق د ۱۳۰۹ هـ ش کال د تلې د مياشتې په ۲۰ نېټه د پکتيا د ولايت
په ... کښې زېږېدلی دی . لائق پښتو ادب ته ستره پانګه پرېښې ده
او په شعرونو ، ترانو ، کيسو او ناولونو چه پر ځتلې فلسفي افکار پکښې
نغښتلی دي د پښتو ادب ته نوې رنګ ورکړی دی . د ده د څېړنو کتابونو
لوړ مونه دادي .
چولغر ، يادونه او درمندونه ، د اباسين سپېدې ، قصې او افسانې

**اباسين کيسې کوي :** په دې کتاب کښې د کوزې پښتونخوا پښتو لنډې
کيسې ځوان ليکوال او شاعر زرين انځور راټولې کړيدي چې په ۱۳۶۴
لمريز هجري کال په کابل کښې په دولتي مطبعه کښې چاپ شويدي . زرين انځور
په دې کتاب کښې د کوزې پښتونخوا
د ځينو پياوړو ليکوالانو لوړې
لنډې پېښې ټولې کړيديو او
بيا ئې د هغه يوه ځونډوره لنډه
کيسه راوړې ده . زرين انځور
په ډېر کم عمر کښې د پښتو ادب په
خدمت کښې او ډېر کامونه
اخستلي دي . او بې شميره ارزښتناک
کتابونه ئې ليکلي دي . په تېره
بيا "غزل په انګلستان کښې"
او "د پښتو ژورنالزم" په
نوم کتابونه ئې د پښتو ادب خزانه ده



زرين انځور




که سپوره وی که پوره وی په شریکه به وی
( باچاخان )

Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt
(Batscha chan)

Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)